فورچون مجلې (Fortune Magazine) د روشن شرکت په "51 کمپنۍ چې نړۍ ته تغیر ورکوي" لست کې شامل کړې دي.

د وړې ۲۲مه، ۱۳۹۴- فورچون مجلې (Fortune Magazine) چې دنړۍ دغوره سوداګریزو مجلو څخه ده، د هیواد دمخکښ مخابراتي شرکت، روشن ګډون په "51 کمپنۍ چې نړۍ ته تغیر ورکوي" لست کې اعلان کړ. د فورچون مجلې هغه کمپنۍ په دې لست کې شاملې کړې دي چې د بنسټیزو ټولنیزو او محیطي ستونزو د حل لپاره کار کوي او هغه یې په خپلو سوداګریزو پروګرامونو کې شامل کړي دي.

د روشن شرکت د افغانستان یوازینۍ شرکت دي چې په تاریخ کې یې دلومړي ځل لپاره په دغه لست کې د ګډون وياړ تر لاسه کړ. نور شرکتونه چې په دغه لست کې شامل شوي ګوګل(Google)، فیسبوک (Facebook)، ټویټا(Toyota)، نایکی (Nike) او داسې نور نړیوال شرکتونه دي.

د روشن د شرکت عمومي رئیس، ښاغلي کریم خواجه وویل: " مونږ ډیر خوشحاله یو چې په دې لست کې په ګډون سره مو د روشن شرکت او ټول افغانستان ته وياړ په برخه کړ. مونږ خپل فعالیتونه په داسې ډول په مخ وړو چې خپلې سوداګریزې ګټې او ټولنیز مسولیتونه یوځای په نظر کې نیسو. د روشن شرکت په دې عقیده دي چې دافغانستان پرمختګ د روشن پرمختګ دي. مونږ په دې باور یو چې په دې هیواد کې د مثبتو تغیراتو راوستل د خصوصي سکتور دنده ده. کوم خصوصي نهادونه چې په افغانستان کې فعالیت کوي باید د د هیواد د پرمختګ او د ځوان نسل د رشد لپاره پانګه اچونه وکړي. دا یواځینې لار ده چې ددې هیواد د بریالیتوب لامل کیدای شي."

د فورچون مجلې (Fortune Magazine) د روشن شرکت د یوې مسؤلې او با احساسه شبکې د رامنځته کولوله امله په دې لست کې شامل کړې دي چې نه یوازې د ۶۰۰ ملیونو ډالرو په پانګه اچونې سره یې د ۶.۵ ملیونو څخه ډیرو افغانانو ته مخابراتي خدمتونه چمتو کړي بلکه په عملي توګه د افغانستان د بیارغونې لپاره، په ځانګړي توګه د صحت، تعلیم او د هیواد د پرمختګ په برخو کې فعالیت کوي. بل لامل چې د فورچون مجلې د روشن شرکت په دې لست کې شامل کړې دا دي چې په هیواد کې د موجودو ننګونو سره سره په شفافه او مسؤلانه توګه خپل فعالیتونه په مخ وړي.

انټرنیټي پاڼې ته د لاسرسي لپاره چې په دغه لست کې د روشن ګډون ښایي، لاندې پاڼې ته مراجعه وکړئ:

http://fortune.com/change-the-world/roshan-21/

د فورچون مجلې رسنیزې خبرتیا او د کمپنیو مکمل لست ته د لاسرسي لپاره لاندې پاڼې ته مراجعه وکړئ.
http://fortune.com/2015/08/20/introducing-change-the-world-list/

د روشن په اړه

روشن (دافغانستان دمخابراتو د پراختیا شرکت) د افغانستان مخکښه مخابراتي کمپنۍ ده چې تر ۶.۵ ملیونو څخه ډیر فعاله پیرودونکي او تر ټولو غوره شبکه لري چې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د ۲۸۷ څخه ډیرې ولسوالۍ او ښارونه یې د پوښښ لاندې راوستې دي.

روشن د افغانستان د بریاوو ښه نمونه ده چې د هیواد په پرمختګ کې فعاله ونډه لري. په ۲۰۰۳ کال کې د فعالیت پیلولو څخه تر دې دمه یې په افغانستان کې ۶۰۰ میلونه ډالره پانګه اچونه کړې ده او د هیواد تر ټولو لویه پانګه اچوونکي او مالیه ورکوونکي کمپنۍ ده چې د افغانستان د کلني داخلي عوایدو تقریبا ۵ سلنه برابروي. روشن په مستقیمه توګه ۱۱۰۰ افغانان په کار ګمارلي چې دهغو له جملې څخه ۲۰ سلنه یې ښځې دي. او همدارنګه ۳۵۰۰۰ افغانانو ته یې په غیر مستقیمه توګه د کار آسانتیا برابره کړې ده.

روشن د افغانستان بیارغوني او پرمختګ ته هراړخیزه ژمنتیا لري. د اقتصادي پرمختګ لپاره د آقا خان سپما (AKFED)، چې د آقا خان د پرمختیایي شبکې(AKDN) یوه برخه ده، د روشن تر ټولو ډیر پانګه اچوونکي دي چې په وروسته پاتې هیوادونو کې د اقتصادي زیربناګانو او شخصي تشبثاتو څخه ملاتړ کوي. همدارنګه دروشن یو اندازه پانګه اچونه د موناکو ټیلیکام انټرنیشنل (MTI) او تیلیا سونیرا له خوا تر سره شوې. روشن افغانستان ته نړیوال مهارتونه راوړي او د افغانانو لپاره د باکیفیته شبکې چمتو کولو ته ژمن دی.

د روشن په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره www.roshan.af یا http://www.facebook.com/RoshanConnects ته مراجعه وکړئ. تاسو همدارنګه کولای شئ مونږ د ټویټر له لارې @roshanconnects تعقیب کړئ.

د روشن سره د اړیکې لپاره
شفیع شریفی
ایمیل: shafi.sharifi@roshan.af
ټلیفون: 0093799999065